# کاونټرپارټ

COUNTERPART

د کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې خبر پاڼه

د افغان مدني ټولنې د پیاوړتیا نوښت

ګڼه ۱۰

چنګاښ ۱۳۸۸


## علما یا مذهبي مشران مدني آواز پورته کوي

## له کاونټرپارټ سره په دې موخه کار کول چې په افغانستان کې مثبته مدني ټولنه وده وکړي

په داسې یوه ټولنه کې چې اسلام په مسقیمه توګه د هغې له نوم او عمل یعنې د افغانســتان اسلامي جمهوریت سره تړلی دی، علما یا مذهبي مشران د خلکو او د مدني ټولنې په منځ کې له ډېر احترام او نفوذ څخه برخمن دي. د علماوو نظریه او فعالیتونه په ټولنیزو چارو کې د ملاحظې وړ وزن لري او دوی په ټولنیزه کچه له کلیدي مقام څخه برخمن دي. علما کولی شي د دولت او مدني ټولنې په اړه مثبتې او مشهورې انګېرنـــې را پیدا کړي چې له مخې یې د افغانستان د ټولو خلکو له پاره د مثبت نقش لوبولو زمینه برابرولی شي. علما د افغان ټولنـــې یوه مهمه برخه یا عنصر دی که هغه په کلیوالي کچه او یا هم ښاري یا مرکزي کچه وي. دغه موضوع هغه وخت ډېـــره مهمه ګرځي کله چې موږ په هېواد کې موجود له ۳۰۰۰۰ څخه زیات کلي په نظر کې ونیسو چې هر کلی بیا په منځنـــي حد څلور یا پنځه جوماتونه لري، چې ځینې یې بیا د لوی شمېر مرکزي ساحو خلکو له پاره جامع جوماتونه دي. د هر یـــوه جومات مسؤولیت د یوه عالم (د علما مفرد) په غاړه وي، چې علما بیا یو د بل په پرتله د دینې پوهې له مختلفو کچو څخه برخمن دي او دوی بیا د خپلـــو پیروانو یا هغو کسانو تر منځ چې ددوی خبرو ته په عام محضر کې غوږ ږدي، د تفکر یـــا عقیدې زېږوونکي خلک دي.



یو دیني عالم په راډیویي ګردي مېز کې

په افغان ټولنه کې د علماوو د اهمیت په پوهــېـدو ســره، کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې د ۲۰۰۸م کال په اوږدو کې یوه پروژه پیل کړه چې له مخې یې علما د بدلون د عالي استازو په توګه چې دوی د ټول افغانستان په کچه د ټولنیز تفکـــر او عقیدې جوړونې آر وسیله ده، په پرمختیایي چارو کې دخیـــل کړي. کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې له علماوو سره اته د بحث ګردي مېزونه دایر کړل چې د هېواد له مرکز کابل څخه او له دریو نورو ولایتونو: هرات، بلخ او ننګرهار څخه علماوو پـــه کې ګډون وکړ. په دغو څلورو ساحو کې ٦٨ ګډونـــوالـــو برخه واخیسته چې ۵۸ تنه دیني عالمان او نهه تنه یې ښځینـــه عالمانې وې.

(پاتې په ۲م مخ کې)

## د افغان ځوانانو استازو د ولسي جرګې له غړو سره په دې موخه لیده کاته وکړل چې د دوه اړخیز پوهاوي لارې چارې په ګوته او ننګونې له منځه یوسي

د ۲۰۰۹م کال د مارچ په ۳مه نېټه د کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې د مفاهمې او رسنیو ته د رسېدنې مدیر کیومرث قاهر دکاونټرپارټ په دفتر کې د مدني ټولنې د ځوانانو د څـــلـــورو مؤسسو(د ځوانانو د سرمشریزې مجلس، د سولې زړې، د افغان ځوانانو مؤسسو د ملاتړ لـــه اداري او د افغان ځوانانو کلتوري ټولنې) څخه د ۱۵ تنو استازو او د ولسي جرګې د غـــړو آغلې ازیتا رفعت، ډاکټر نعمت، شکریه بارکزۍ او شینکۍ کروخیل چې دغه ټول د ولســـي جرګې د جندر او ځوانانو د کمېټې غړي دي، سره د ګډ مجلس کوربه و. د دغه مجلس هدف دا دی چې د مدني ټولنې مؤسسې د ولسي جرګې او مشرانو جرګې لـــه کمېټو سره چې د جندر او مدني ټولنې په مسایلو باندې کار کوي، سره په یوه غولي را غونـــډه کړي چې د مدني ټولنې په اړه لاسته راوړنې او پر مخ کې یې د پرتو ننګونو په هکله معلومات سره شریک کړي، او دا چې داسې لارې چارې را منځته کړي چې د دواړو سکتورونو تر منځ دوه اړخیز پوهاوی پرې را منځته کړل شي.

(پاتې په ۲م مخ کې)

## د کاونټرپارټ -ارمنستان دفتر د افغانستان د ایپکس او د هغې د شریکباڼو ټولنو کارمندانو ته د اډویکسی متوسطې روزنې وړاندې کړې

د تېرو کلونو پر مهال کاونټرپارټ خپلو شریکباڼو ټولنو یعنې د مدني ټولنې د ملاتړ ارتباطـــي مؤسسو، د مدني ټولنې د ملاتړ مرکزونو او د مدني ټولنې مؤسسو ته د اډویکسۍ په اړه ډېر شمېر روزنې وړاندې کړې دي. اډویکسي په افغانستان کې یوه نوې موضوع ده، کاونټرپارټ ددې له پاره چې د خپلو کارمندانو او د خپلو شریکباڼو ټولنو د کارمندانو ظرفیتونه لوړ کړي، نو یې وپتېیله چې په آذربایجان او ارمنستان کې د خپلو ساحوي دفترونو سره په تماس کـــې شي چې دوی د اډویکسۍ په پروګرامونو کې خورا ډېرې تجربې لري او په دې توګه موږ ته د اډویکسۍ پرمختللې روزنې وړاندې کړي. وروسته بیا پرېکړه په دې وشوه چې په ارمنستان کې د کاونټرپارټ د دفتر مشر الیکس سردار څخه هیله وشي چې د هغه د مدني اډویکسۍ د ملاتړ پروګرام د افغانستان له حالت سره ورته والی درلود، چې راشي او ټریننګ وړانـــدې کړي. (پاتې په ۳م مخ کې)



د کاونټرپارټ د آیپکس پروګرام کارمندانو ته د اډویکسۍ د ټریننګ یوه ځنلوه—کابل

## علما يا مذهبي مشران مدني آواز پورته کوي...

ددغو ګردیو مېزونو هدف دا و چې د علماوو تر منځ بحثونه را منځته کړي او دا چې د مدني ټولنې په هکله د عامو وګړو له خوا د شک او ناسمو انګېرنو په اړه ددوی نظر واخیستل شي. د مثبت ډیالوګ او خبرو اترو د را منځته کولو او هڅولو له مخې کاونټرپارټ په دې بریالی شو چې د ګډونوالو علماوو په وسیله واضحې انګېرنې را منځته کړي، په دې توګه چې مدني ټولنه څه شی ده، څه ډول مدني ټولنه د افغانستان په پرمختګ کې مرسته کولی شي او – په ټولنیزه کچه د علماوو د مستقیمې ګډون ونډې له مخې– څه ډول ددغه هېواد اتباع کولی شي په هغو مسایلو کې چې د دوی په ټولنو پورې اړه لري را شریکېدلی شي.

هغه عامې لاسته راوړنې چې ددغو ګردیو مېزونو څخه ترلاسه شوي دي دا دي چې علماوو مدني ټولنه د یوې داسې ټولنې په توګه تعریف کړې چې خلک له مختلفو مفکورو سره سره کولی په سوله او امن کې ژوند وکړي. مدني ګډون ونډه یا مشارکت داسې یو فرصت ګڼل شوی چې د ټولو اتباعو معنوي او فزیکي حقونه په کې خوندي وي، او داسې یوه وسیله چې له مخې یې ټول اتباع پرته د نه مهار کېدونکو خنډونو او یا هم پرته له تبعیضي رواجونو څخه منابعو ته لاسرسی ولري. ګډونوالو دغه راز څرګنده کړه چې مدني ټولنه په داسې اساساتو او اصولو ولاړه ده چې له مخې یې نران او ښځې د اسلامي ارزښتونو او تعلیماتو سره سم له مساوي حقونو برخمن وي.

په دغو ګردیو مېزونو کې د علماوو یو بل جالب بحث د جندر د تعادل او مساواتو او په افغان مدني ټولنه کې د دغه ډول مساواتو د نقش په اړه د علماوو مختلف نظرونه وو. ځینې ګډونوال په دې عقیده وو چې جندر په دې معنی دی چې نران او ښځې دې د ټولنې د هوساینې په خاطر یو د بل تر څنګ ګډ کار وکړي، له بل پلوه ځینې نور بیا په دې نظر وو چې د جندر مفهوم د ښځو او نرو مساوي حقونو ته راجع کېږي. زیاتره علما په یوه مسلکي چاپېریال کې د ښځو له کار سره په دې شرط موافق وو چې د دوی اسلامي قانون سمې او په حجاب کې کار وکړي. دغه راز دوی د ډیموکراسۍ د مفهوم په اړه هم بېلا بېل نظرونه وړاندې کړل. د ځینو علماوو په نظر غربي ډیموکراسي انفرادیت یا جلاوالي ته وده ورکوي چې په هغې کې افراد را ټولېږي او قوانین را منځته کوي، چې دغه کار د اسلام له مخې منع ګرځول شوی دی، ځکه چې د قرآن عظیم الشان له مخې دغه ډول پرېکړې د اسلامي شوراګانو له خوا باید وشي. ځینو بیا د اسلامي ډیموکراسۍ موډل یا نمونه انتخاب کړه یعنې هغه چې د عقیدې پر بنسټ حکومت را منځته کوي چې په داسې نظام کې بیا نران او ښځې دواړه د انتخاب او ټاکنې حق لري.

د کاونټرپارټ نړیوالې ټولنې د دغو ګردیو مېزونو له بحثونو څخه تر ټولو ستر زده شوی درس دغه دی چې که څه هم علما د مدني ټولنې، ډیموکراسۍ، جندر، حکومت، او سیاسي ډلو په اړه مختلف نظرونه لري، خو لا هم ددوی نظرونه د عامو وګړو تر منځ په پراخه کچه د احترام او عزت وړ دي. په هېڅ یوه پرمختیایي پروسه کې ددوی نه ور شاملول ښایي چې دغه پروسې له یوې مخ په ټپه ودروي او کېدلی شي د نړیوالو انجوګانو او د محلي مؤسسو پر وړاندې جدي خنډونه را منځته کړي هغوی چې ددې لېوالتیا لري چې د ټولنیز مشارکت یا یو پر بل اغېز لرونکو فعالیتونو د ودې په اړه د افغانستان په شمول په هر بل اسلامي جمهوریت کې کار کوي.

د افغانستان دولت، نړیوالې تمویلوونکې ادارې، او د مدني ټولنې کورنۍ مؤسسې ښایي د ټول شمولو پروګرامونو د طرحه کولو څخه ګټې پورته کړي، چې په دې کې مذهبي مشران، لکه ددغه هېواد علما، د ډیالوګ او خبرو اترو له مخې په نړیواله کچه د سپانسر شوو یا د مالي مرستو له مخې د ملاتړ شوو او په دوه اړخیزه توګه د توافق شوو هدفونو په اړه په افغانستان کې وپوهېږي، او دا خبره په رسمیت وپېژندل چې په ټولنیز ژوندانه کې ټول ګډونوال کولی شي نقش ولوبوي او دا خبره یقیني کړي چې د ټولو د مختلفو هیلو آواز اورېدل شوی دی. د افغانستان علما او ملایانو څرګنده کړې ده چې د دغه ډول ډیالوګ، بحثونو او مناظرو پر مخ یې دروازې پرانیستې دي، او کاونټرپارټ نړیواله مؤسسه ټول شموله او د ډیموکراتیکو ارزښتونو، د مدني ټولنې د مشارکت او د مدني تعلیماتو د اهمیت، د ښځو د حقونو اعاده کولو او احترام ساتلو، د افغانستان په سیاسي ژوند کې مشارکت او په ټاکنو او ټاکنیزو پروسو کې د مثبت برخورد له مخې برخه اخیستلو او نورو دغه ډول موضوعاتو په اړه د ډیالوګونو او خبرو اترو ته خلک هڅوي چې د چاپېریال په کچه حساس ګڼل کېږي.

## کاونټرپارټ او د په ګټو نه ولاړ قانون له پاره نړیوال مرکز د مدني ټولنې په اړه ګردي مېز دایر کړ

د روان کال د مارچ په ۲۸مه نېټه کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې او د په ګټو نه ولاړ قانون له پاره نړیوال مرکز د مدني ټولنې په هکله د خپلو دوو پلان شوو ګردیو مېزونو څخه لومړنی ګردی مېز دایر کړ.

په دغه دوه ساعته په ژوندۍ توګه خپور شوی ګردی مېز کې د مدني ټولنې د مفهوم، د انجوګانو په اړه د حقوقي مسایلو، او د افغانستان په اوسني او راتلونکي پرمختګ کې د مدني ټولنې د مؤسسو د نقش په اړه معلومات وړاندې کړل شول. ددغه پروګرام کوربه د کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې حقوقي مشاور ایمل سنجیده و، او مېلمه یې د میدان وردګ والي ښاغلی حلیم فدایي و، چې په افغانستان کې د مدني ټولنې د پرمختګ آواز پورته کوونکی او مدافع دی. دغه ګردی مېز د افغانستان د ملي راډیو تلویزیون له لارې خپور شو. د افغانستان راډیو تلویزیون په مستقیمه توګه شپږ میلیونه لیدونکي او اورېدونکي د هېواد د ۳۴ ولایتونو په کچه لري.

ددغه پروګرام هدف دا و چې د مدني ټولنې په اړه د عامو نفوسو د پوهاوي کچه لوړه کړي او ددغې موضوع په اړه د زیاترو هغو ناسمو انګېرنو سپیناوی وشي چې اوس هم په هېواد کې موجودې دي. کاونټرپارټ د مدني ټولنې د بحث په اړه زیات مثبت غبرګونونه ترلاسه کړل او د پروګرام په بهیر کې یې ډېر شمېر تلیفوني اړیکې ترلاسه کړې.

کاونټرپارټ به د دغه ډول وګړنیزو خبرو اترو ته په دې هیله دوام ورکوي چې د مدني ټولنې په اړه عامه پوهاوی زیات کړي او چې په دې توګه په افغانستان کې د مدني ټولنې د مؤسسو مثبت طبیعت او تولیدي یا ګټور رول برالا او برجسته کړي.

## د افغان ځوانانو استازو د ولسي جرګې له غړو سره په دې موخه لیده کاته وکړل....

د ځوانانو د ټولنو استازو د ځوانانو د بې روزګاریو، د پالیسۍ جوړولو په بهیرونو کې د ځوانانو له پاره د فرصتونو د نشتوالي او په افغانستان کې ښوونې او روزنې ته د ځوانانو نه لاسرسی، موضوعاتو په اړه بحثونه وکړل.

د ولسي جرګې غړې ازیتا رفعت چې په ولسي جرګه کې د ځوانانو د کمېټې مشره ده، د ځوانانو په اړه د راپورته شوو ستونزو یادښتونه ونیول او ژمنه یې وکړه چې د ولسي جرګې د کمېټې په غونډه کې به دغه مسایلو باندې غور کوي. ګډونوالو غوښتنه وکړه چې دوی ته دې د ځوانانو د کمېټې په راتلونکې غونډه کې د ګډون کولو فرصت ورکړل شي، چې په دې توګه دوی د خپلو اړوندو مسایلو په اړه په مستقیمه توګه د ولسي جرګې له غړو سره وغږېږي. د ولسي جرګې غړې رفعت به ددوی غوښتنه په نظر کې نیسي او دوی ته به د ولسي جرګې د کمېټې په مجلس کې د ګډون بلنلیک استوي. دغه راز ګډونوال وهڅول شول چې د راتلونکو ټولټاکنو له نوماندانو سره د آګست میاشتې د ولسمشریزو ټولټاکنو تر وخته وګوري او د ځوانانو اړوند مسایل دې ورسره شریک کړي په داسې حال کې چې دوی دې د ځوانانو په پلوۍ مدافعه وکړي چې د ولسمشریزو ټولټاکنو په دریځ کې دې د ځوانانو اړوند مسایل شامل کړي.

د ځوانانو د ټولنو استازي به دغه راز ددې مسؤولیت هم ولري چې د تعقیبولو یا داسې میکانیزم را منځته کړي چې له مخې یې د ولسي جرګې له غړو سره د همغږۍ او یو پر بل د اغېز لرونکو ناستو او مجلسونو تابیا ونیسي. کاونټرپارټ به ددغه مجلس څارنه کوي او په راتلونکې کې د اړتیا پر وخت به تخنیکي مرستې ورته وړاندې کوي.

## په ارمنستان کې د کاونټرپارټ دفتر د افغانستان....

الېکس سردار د ۲۰۰۸م کال په اکتوبر کې افغانستان ته راغی او د آیپکس له اداري مخکښانو سره یې وکتل چې په دې توګه یې ددوی هم مهاله ظرفیت او دروزنو اړتیاوې و ارزولې. په پای کې پرېکړه وشوه چې باید یو درې ورځنی متوسط د اډویکسۍ ټرېننګ او دوه ورځنی د اډویکسۍ متوسط ټرېننګ د روزونکو له پاره د ۲۰۰۹م کال د مارچ له ۱۵مې څخه تر ۱۹مې نېټې پورې دایر کړل شي. په دغه ټرېننګ کې د کاونټرپارټ مخکښو کارمندانو، او د شریکباڼو مؤسسو هغو کارمندانو چې له آیپکس سره کار کوي برخه واخیسته. په دغه ټرېننګ کې دآیپکس د مدني ټولنې د ملاتړ د ارتباطي مؤسسو او دمدني ټولنې د ملاتړ له مرکزونو څخه د اتو تنو ښځینه وو په شمول ۲۲ تنو ګډون وکړ.

په دغه ټرېننګ کې د اډویکسۍ ابتدایي او هم ډېر پرمختللي مفاهیم، تعریفونه او د اډویکسۍ د تعریف میکانیزمونه، د سرچینو تشخیصول او له ځواک څخه کار اخیستل، د ټولنې د اړوندو مسایلو په نښه کول، او د اډویکسۍ د کمپاین بهیر، تشریح شول. د دغه ټرېننګ د ترلاسه کولو څخه وروسته د کاونټرپارټ د پروګرام کارمندان په تحلیلي مهارتونو باندې مجهز شول چې له مخې یې کولی شي د افغانستان د وضعیت سره سم د اډویکسۍ د وړاندیز شوو فعالیتونو معیار او اغېزې تشخیص کړي.

کاونټرپارټ پتېیلې ده چې د اډویکسۍ بلا عوضه مرستې د روان کال په وروستیو کې د اډویکسۍ د دویم ځلي بلاعوضه مرستو د پروګرام له مخې د آیپکس شریکباڼو مؤسسو ته د ۲۰۰۹م کال په وروستیو کې ورکړي.

د ټرېننګ او د روزونکو د روزنې د موډل د ترلاسه کولو په نتیجه کې، کاونټرپارټ او شریکباڼې مؤسسې به یې د اډویکسۍ د مراجعوي او آماده اشخاصو یوه ډله را منځته کوي، چې دوی به د آیپکس له خوا نښه شوو د مدني ټولنې مؤسسو ته د اډویکسۍ ټرېننګونه وړاندې کوي، چې په دې توګه دغه مؤسسې په اړینه پوهه او مهارتونو مجهزې کړي چې دوی بیا د ټول افغانستان په کچه د اډویکسۍ کمپاینونه طرح او تطبیق کړي.

## د مدني ټولنې له شریکباڼو سره په دې موخه کار کول چې پایښتیزې شي:
## د آیپکس روزنې په افغانستان کې د مدني ټولنې د پایښتیزو مؤسسو په رامنځته کولو متمرکزې دي

د مؤسساتي ظرفیتونو د ارزونې کموالي د مدني ټولنې د زیاترو افغان وړو ټولنو مخه نیولې چې په پایښتیزه توګه تمویلوونکې اداري ولري چې په دې توګه اوږدمهالي فعالیتونه او پروګرامونه یقیني کړي. د مدني ټولنې د محلي مؤسسو مؤسسو له پاره د مالي سرچینو خوندیتوب څه آسانه خبره نه ده، دا ځکه چې دوی له زیاترو لویو او ډېرو منظمو مؤسسو سره د رقابت په ډګر کې له ستونزو سره مخ کېږي. خو له دې ټولو ننګونو سره سره، د مدني ټولنې ځینې مؤسسې په افغانستان کې خپل پایښتیز پرمختګ ښکاره کړی دی.




*د ظرفیتونو د لوړولو د افغان مؤسسې کارمندان*

د ظرفیتونو د لوړولو افغان مؤسسه (ACBO) یوه پر ګټو نه ولاړه مؤسسه ده چې په ۲۰۰۵م کال په کابل کې د یو شمېر لېوالو مدني فعالانو له خوا تأسیس شوې ده چې د ټولنې د پرمختیایي کار پر مخ بیولو له پاره د ټولنې مستقیمې ګډون ونډې ته ځانګړې شوې او مصممه مؤسسه ده.

د دغې مؤسسې د لرلید او ماموریت پر بنسټ، نوموړې مؤسسه د ۲۰۰۵م په ډسمبر میاشت کې د کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې له خوا د مدني ټولنې د په نښه شوې مؤسسې په توګه انتخاب کړل شوه، چې په دې لړ کې د متحدو ایالتونو د نړیوالې پرمختیایي اداری د سخاوتمندانه مالي مرستو مننه او ستاینه کوو. د افغان مدني ټولنې د پیاوړتیا نوښت (آیپکس پروګرام له مقصدونو څخه یو اصلي مقصد دا دی چې د هېواد په لسو ساحو کې د خپلو نهو شریکباڼو مؤسسو ظرفیتونه لوړ کړي. د مدني ټولنې په دغو ګروپونو کې دوه مؤسسې د مدني ټولنې د ملاتړ ارتباطي مؤسسې(ISOs) دي او اووه د مدني ټولنې د ملاتړ مرکزونه (CSSCs)دي چې د ټول افغانستان په کچه د مدني ټولنې د مؤسسو د پرمختیایي ملاتړ له پاره د یوه پایښتیز بنسټ را منځته کولو ته یې فعالیتونه متمرکز دي. د کاونټرپارټ د مدني ټولنې د ملاتړ دوه ارتباطي مؤسسې (ISOs)د ټول افغانستان د لسو ساحو په کچه د مدني ټولنې د ملاتړ اوو مرکزونو (CSSCs)ته د ظرفیتونو لوړولو مرستې کوي. د مدني ټولنې د ملاتړ ارتباطي مؤسسې او د مدني ټولنې د ملاتړ مرکزونه د مدني ټولنې ۲۰۵ ساحوي مؤسسو ته په مستقیمه توګه روزنې، پرمختیایي ملاتړ، او تخنیکي مرستې برابروي.

د آیپکس له خوا د ACBOمؤسسې د ټرېننګونو تر مالي ملاتړ وړاندې، دغې مؤسسې د اوو پروژو پروپوزلونه ډېر شمېر تمویلوونکو مؤسسو ته وړاندې کړي وو، خو ټول یې له یوه سره ددې له امله نه وو منل شوي چې د دغې مؤسسې داخلي ظرفیت کم وو او د ټولنې د اړتیاوو د ارزونې او د پروپوزل د لیکلو په برخه کې یې ناکافي تجربه درلوده. وروسته له دې چې د ظرفیتونو د لوړولو افغان مؤسسه د آیپکس یوه شریکباڼې مؤسسه شوه، کارمندانو یې دا فرصت ترلاسه کړ چې د کاونټرپارټ له خوا په وړاندې شوو ډېر شمېر ټرېننګونو کې برخه واخلي، په ځانګړې توګه د ټولنې د ستونزو د حل او د پروژو د ډیزاین او پروپوزل لیکلو په ټرېننګونو کې. دغو ټرېننګونو له مؤسسې او د هغې له کارمندانو سره مرسته وکړه چې څه ډول د ټولنې متنوع ګروپونه او ډلې په یوه غولي سره را غونډ کړي چې ستونزې په خپله معلومې کړي او د لومړیتوبونو له مخې یې حل لارې وړاندیز کړي. پر دې سربېره، دغو ټرېننګونو د ظرفیتونو د لوړولو افغان مؤسسې کارمندان د پروژې له سایکل یا دوران او د پروژې د پروپوزل له اساساتو او د تعقیبي ارزونې له مفهوم سره آشنا کړل.

د ظرفیتونو د لوړولو افغان مؤسسې کارمندانو دغه ټرېننګ ډېر عملي، ګټور او ښه تنظیم شوی وګاڼه. د مؤسسې کارمندانو داسې لارې چارې او طرحي وسیلې ومیندلې چې له مخې یې د ټولنې اړتیاوو او لومړیتوبونو ته ځواب ویلی شي. ځکه خو د ظرفیتونو د لوړلو افغان مؤسسې د پروژو ډېر شمېر پروپوزلونه را منځته کړل او په بریالیتوب سره یې تر ۲۰۰۰۰۰ امریکایي ډالرو زیاتې مالي سرچینې د اتو بېلا بېلو پروژو له پاره ترلاسه کړي دي. دغه پروژې په لاندې ډول دي:

- درې پروژې د ښځو پر وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو له کمېټې (CEDAW)څخه د ټولنبنسټو ښوونځیو د تأسیس له پاره په پروان او کابل ولایتونو کې دي چې د ۷ څخه تر ۲۵ کلونو د عمر لرونکو ۱۰۵۰ تنو نجونو له پاره د کمپیوټر او انګریزۍ ژب لوست کورسونه وړاندې کوي؛
- له یونیفیم مؤسسې څخه؛ د ښځو حقونه، د بېسوادۍ او مسلکي زده کړو پروژه؛
- د سویډن له کمېټې څخه د عمومي اداري، د دفتر د مدیریت او د حسابدارۍ د اساساتو د ټرېننګونو په اړه پروژه، او؛
- یوه پروژه له یورو انټرنیشنل افغانستان او دوې د افغان مدني ټولنې له مجتمع څخه په کابل، پروان، لوګر او غزني ولایتونو کې.

بریالی رشیدي د ظرفیتونو د لوړولو د افغان مؤسسې رییس ښاغلی بریالی رشیدی د کاونټرپارټ له خوا د مرسته شوو ټرېننګونو مننداوی دی او وایي: "د افغانستان د بې وزله خلکو د مرستې کولو په لړ کې په نږدې راتلونکې کې د ظرفیتونو د لوړولو افغان مؤسسه ACBOیوه سرلارې مؤسسه وینم." هغه پوهه او مهارتونه چې د کاونټرپارټ له مستقیم ملاتړ څخه د ظرفیتونو د لوړولو افغان مؤسسې( (ACBOترلاسه کړي دي، دغې مؤسسې ته یې دا توان ور بخښلی چې په پراخه کچه خدمتونه د هېواد په کچه ټولنو ته وړاندې کړي، چې په دې توګه د مدني ټولنې د دغې شریکباڼې مؤسسې اوږدمهالی پایښت یقیني شوی دی.

## د افغان مېرمنو تعلیمي مرکز چې د کاونټرپارټ شریکباڼې مؤسسه ده ....

د افغان مېرمنو د تعلیمي مرکز له آر فعالیتونو څخه د ټولنې د بسیج کولو له لارې د ښځو د شوراګانو مرسته کول دي چې د ښځو پر وړاندې تشدد له منځه یوسي. دغه هدف د ښځو د شوراګانو د تأسیسولو له امله ترلاسه شوی دی چې دغه شوراګانې له خپلو ټولنو سره کار کوي چې په کورنیو او په ټولیزه توګه د ټولنې په کچه د ښځې په حالت کې ښه والی راولي.

## د آیپکس او سټیپ کارمندانو په کابل کې د ډېرو بې وزله کورنیو سره مرسته وکړه

هر کال د سخت ژمي له امله د افغانستان ملیونونه نفوس له سختو کړاوونو سره لاس او ګرېوان وي، هغوی چې نه کور لري او د سون موادو، ګرمو جامو، سرپنا او ګرمې ډوډۍ له نشتوالي سره مخ وي. د تېرو څو کلونو په بهیر کې، افغانان له سختو بحراني ستونزو سره لاس او ګرېوان دي، چې یو لامل یې له ګاونډیو هېوادونو څخه د بېرته را ګرځېدونکو مهاجرو هجوم دی.



اکبر او کورنۍ یې

دا د کاونټرپارټ د کارمندانو نوښت و چې په خپل دفتر کې یې دغه موضوع را پورته کړه چې په کابل کې له اړمنو خلکو سره مرسته وکړي او د کاونټرپارټ د ټولټاکنو د بهیر مرستندوی دفتر (STEP)کارمندانو هم یو شمېر مجلسونه په دغه اړه دایر کړل او ددې ژمنه یې وکړه چې له ځینو هغو افغان کورنیو سره چې له ستونزو سره لاس او ګرېوان دي مرستې وکړي. د سټیپ دفتر کارمندانو د اړمنو کورنیو په نښه کولو او له دوی سره د غذایي موادو د مرستې د برابرولو ګډ کار هم ترسره کړ. د دوو اوونیو په بهیر کې، د کاونټرپارټ کارمندان په دې وتوانېدل چې ۵۸۰۰ امریکایي ډالر بسپنې له کارمندانو او هم له نورو مرستندویانو را غونډ کړي. د ۲۰۰۹م کال د ژمي د مرستو په څولۍ کې کمپلې، اوړه، غوړي، بوره، چای، وریجې او د خوړو نور توکي شامل وو چې په ۴۰ اړمنو کورنیو ووېشل شول.

اکبر چې د کورنیو جګړو پر مهال له بامیان څخه کابل ته د خپلو خپلوانو د لیدو له پاره را روان و، د یوه خښ شوي ماین د چاودېدو له امله یې خپله کینه پښه له لاسه ورکړې ده، د نهو تنو ماشومانو پلار دی. هغه د خپل ژوند ژواک له پاره د کابل د یوه جومات د صفایۍ دنده لري. اکبر له کاونټرپارټ څخه د منني په ترڅ کې وویل: "د خپلې کورنۍ له پاره د دغو غذایي موادو په ترلاسه کولو ډېر خوښ یم، کم تر کمه دوې میاشتې به لږ په آرام شم." هغه دغه راز څرګنده کړه چې د معیوبیت له امله راته ډېره ګرانه ده چې د خپلې کورنۍ او ماشومانو معیشت تأمین کړم.

## کاونټرپارټ او د په ګټو نه ولاړ قانون له پاره نړیوال مرکز د زده کوونکو او ځوانانو تر منځ د قانون د اهمیت او د جندر مسایلو په اړه عامه پوهاوی زیاتوي

د ۲۰۰۹م د جنورۍ په ۲۵مه نېټه ۴۰۰ زده کوونکو په کابل کې د کاونټرپارټ د شریکبانې ټولنې (د په ګټه نه ولاړ قانون له پاره نړیوال مرکز (ICNL)له خوا د تلویزیون په پرده د ذهني سیالۍ پروګرام خپور کړ چې دغه پروګرام د مدني ټولنې، جندر او حقوقي مسایلو په اړه و. د دغې ذهني سیالۍ په پروګرام کې ۸۰ تنو نجونو او ۳۲۰ تنو هلکانو برخه اخیستې وه، چې ۲۰ تنو (۱۰ هلکانو او ۲۰ نجونو) د سټېژ پر سر د لومړي مقام د خپلولو له پاره یو له بل سره سیالي وکړه. ددغې سیالۍ هدف دا و چې د ځوانانو او زده کوونکو تر منځ د مدني ټولنې، د قانون د اهمیت او د جندر د مسایلو په اړه د دوی د پوهاوي کچه لوړه کړل شي. تر سیالې مخکې هر برخه اخیستونکي زده کوونکي د پوښتنو او ځوابونو یو کتابګوټی چې د کاونټرپارټ له خوا چاپ شوی و، ترلاسه کړل، چې په دغه کتابګوټي کې د مدني ټولنې، قانون او د جندر مسایلو په اړه ۵۰ پوښتنې او ځوابونه ځای پر ځای وو. د دغې سیالۍ په پای کې د افغانستان د ملي تلویزیون له خوا د یوې لنډکۍ سروې په نتیجه کې، د تلویزیون لیدونکو څرګنده کړې وه چې دوی د دغې سیالۍ د لیدلو څخه ډېر څه زده کړل.

ددې له پاره چې د دغې سیالۍ اغېزې نورې هم زیاتې شي، د افغانستان ملي راډیو تلویزیون ددغې سیالۍ پروګرام په ملي کچه خپلو لیدونکو کتونکو ته خپور کړ، چې د هېواد ټولو ۳۴ ولایتونو ته یې خپروني رسېږي. دغه پروګرام د جمې په ورځ یا د جنورۍ په ۳۰مه نېټه خپورشو، او د یکشنبې په ورځ د جنورۍ په ۳۱مه نېټه یو ځل بیا خپور کړل شو. پر دې سر بېره د پوښتنو او ځوابونو د کتابګوټي ۴۰۰ جلده د دغې سیالۍ د پروګرام په ګډونوالو هم ووېشل شوې. په ټولیزه توګه، د دغو فعالیتونو په اړه داسې وړاندوینه هم کېږي چې په ملي کچه د زده کوونکو او ځوانانو تر منځ باید دغه ډول تعلیمي اغېزې نورې هم پراخې شي، او باید د مدني ټولنې، په ټولنه کې د قانون او د جندر مسایلو په اړه پوهاوی او اهمیت یې نور هم زیات کړل شي.

## د افغان مېرمنو تعلیمي مرکز چې د کاونټرپارټ شریکبانې مؤسسه ده خپل کارونه یې د افغانستان ختیځو ولایتونو ته وغزول

د افغان مېرمنو تعلیمي مرکز د خپل تأسیس د ۱۹۹۱م کال څخه را په دې خوا د اړمنو ښځو او ماشومانو له پاره د پروګرامونو او پروژو په تطبیقولو سره مرسته کړې ده، چې هدف یې د ښځو د ژوند په حالت کې بدلون راوستل او د ماشومانو هوساینه ده. پر دې سربېره د افغان مېرمنو تعلیمي مرکز ژمن دی چې د ښځو او ماشومانو د حقونو په اړه مدافعه وکړي او د اعادې له پاره یې د ذیدخله اړخونو ملاتړ را جلب کړي او دا چې په هېوادنۍ کچه له پامه د غورځول شوو ښځو ملاتړ او مرسته وکړي.

د ۲۰۰۸م تر نیمایي پورې د افغان مېرمنو مرکز د هېواد په شمال (بلخ او فاریاب) کې دوه ساحوي دفترونه درلودل او دوه ساحوي دفترونه یې د هېواد په سهیل (پکتیا او وردګ) ولایتونو کې درلودل، چې مرکزي دفتر یې په کابل کې دی. د ۲۰۰۸م کال په ډسمبر کې د افغان مېرمنو تعلیمي مرکز په ستراتیژیکه توګه خپل یو منطقوي دفتر په ننګرهار کې پرانیست چې د ختیځ زون (لغمان، نورستان، او کنړ) ولایتونه تر خپل کاري پوښښ لاندې راولي.

دغه نوی منطقوي دفتر مالي مرسته د انټرفیت مؤسسې (ICCO)او په دې وروستیو کې د ایشیا فونډېشن له خوا د افغان مېرمنو د تعلیمي مرکز سره د یوه کال له پاره د بلاعوضه مرستو په دود ډالۍ شوې ده.

د افغان مېرمنو تعلیمي مرکز د ښځو له پاره د پروژو له لارې د ښځو د حقونو په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو، د مسلکي زده کړو په شمول د مختلفو موضوعاتو په اړه روزنیز ورکشاپونه، د ظرفیتونو لوړول، د ټولنیزې – رواني سلامتۍ روزنې، روغتیایي ښوونه او روزنه، سواد زده کړه، د سولې تعلیمات او نورو موضوعاتو په اړه کار کوي.

(پاتې په ۳م مخ کې)